پوهندوی آصف بهاند

# «هېڅ ډول مرګ نشي کولای، داسې طلاغږ، نسکور کړي!»

## (د افغانستان د موسیقۍ ملکې مېرمن قمرګلې ابدي بېلتون)



ما کشتۀ سازیـم، چا سازیـم خوایا
بر مردۀ ما طبله و سارنگ بیارید

قمرګلې هم د لاروړکولارویانو د حسرتونو او ناهیلیو په لړو کې ډک زړه سترګې پټې کړې، خدای دې وبښي.

د زړورتیا نړیواله جایزه باید د پښتو موسیقۍ همدې ملکې او بلبلې ته ورکړل شوې وای، ځکه چې قمرګلې په داسې تولنه کې په کلونو ـ کلونو د خلکو د پوهولو او خوشالتیا لپاره غږ جګ کړ، چېرې چې د خلکو پر ذهن باندې د «ښځه یا په کور یا په ګور» شعار حکومت کاوه.

زما لپاره قمرګله هغه قهرمانه ده چې ټول عمر یې له خپلې ښکلې طلایي حنجرې نه په دودیزو قیوداتو کې د بندي افغان مېرمنو مظلومیت غږ وطنوالو او نړیوالو ته ورساوه.

روح یې ښاد او یاد یې تلپاتې!

آصف بهاند

قمرګلي هم د لاروركولارويانو د حسرتونو او ناهیلیو په لړو کي ډک زړه د ۲۰۲۲ ام کال د دسمبر پر نهمه (۹) سترګي پټي کړې، خدای دې وبښي.

د زړورتیا نړیواله جایزه باید د پښتو موسیقۍ همدې ملکي او بلبلي ته ورکړل شوې وای، ځکه چي قمرګلي په داسي ټولنه کي په کلونو ـ کلونو د خلکو د پوهولو او خوشالتیا لپاره غږ جګ کړ، چېرې چي د خلکو پر ذهن باندې د «ښځه یا په کور یا په ګور» شعار حکومت کاوه.

زما لپاره قمرګله هغه قهرمانه ده چي ټول عمر یې له خپلي ښکلي طلایي حنجرې نه په دوديزو قیوداتو کي د بندي افغان مېرمنو غږ وطنوالو او نړیوالو ته ورساوه، هغې خپله دنده ترسره کړه، او ډېره ښه یې ترسره کړه، هغې هیڅ انسان حتی کوم ژوندی موجود ازار نه کړ، تل یې د میني زمزمې وکړي او د میني د یوې ریښتیني استازې په ډول یې د خلکو په ذهن کي مینه او خوند وکاره.

زموږ د سندریز بڼ ملکه مېرمن قمرګله په داسي یوې ټولني کي زېږېدلي او لویه شوې وه چي هلته موسیقي غوږل خو پرېږده، اورېدل یې کبیره ګناه ګڼل کېږي، خو زموږ د موسیقۍ ملکي هر ډول نادودو ته ودرېده، هره ستغه سپوره یې واورېده او ورته وېخدل، خو د ککرې په کومبزه کي یې د انساني میني د ترنم نغمې غږولې، د موسیقي پر وزرونو یې الوت کاوه او د میني او خوند پیامونه یې تر غوږونو او زړونو پورې رسول. اوس یې چي سترګي پټي شوې د حق یوه زره یې ښایي پر افغانستان باندې د حاکمو نویو واکدارانو له لوري نه یوازې دا چي ادا نه شي، نور مینوال او د موسیقي د بڼ بلبلان به یې هسې یادولو ته هم نه پرېښودل کېږي.

مېرمن قمرګلي خپل ژوند له موسیقي او ترنم سره غوټه کړی و، د خپل ژوند ډېره موده یې موسیقۍ، سندرو، شعر او ترنم ته وقف کړې وه او له دې لارې یې د هېواد، سیمي او نړۍ په کچه د انسانانو د ارامتیا او خوښۍ لپاره خپلې همرې هلې ځلې د ژوند ترپایه جاري وساتلې.

په هېواد کي داسي حالت راغی چي، د «موسیقي حرامه ده» پالیسۍ پر بنا، د موسیقي د برخي په سلګونه کدرونه یا توهین شول یا د ژوند د دایرې په تنګېدو سره وتښتېدل او یا له هېواده وشړل شول، او زموږ د مسیقۍ ملګه هم د همدې لاروركو لارویانو پر لاره پل کېښود، د مځکي د کرې وروستۍ برخي ته ورسېده، خو ارامه نه شوه، ځکه چي په خپل ټاټوبي کي یې حالات داسي راغلل چي موسیٰ په دار وځړول شوه او هنرمند خوار شو، خو نوره دنیا بیا د افغانستان د مویسقي کادرونو ته جایزې او ویاړمني ډوکتوراوې ورکوي.

حالات داسي خراب شول چي اوس نه سندرغاړی لرو نه موسیقي، که یو نیم لرو، هغه وهل کېږي او د ګرېوان د شکولو ترڅنګ یې سر وربانديې رخیل کېږي او ترټولو بده لا دا چي د موسیقۍ الي یې ترسترګو وړاندې ورته سوځول کېږي او خپله هنرمند داسي حیران او په ژړاندو سترګو ورته ګوري لکه د هغه اور په لمبو کي یې چي خپل اولاد سوځول کېږي. دا لاندې یې یوه بېلګه ده چي یوکال وړاندې په افغانستان کي له سندرغاړي سره داسي چلن شوی دی:

«لاره اباده د قاتل د ځوکان<br>قامونه چُپ دي، قبیلې چُپ دي!...

زه د انسان په زورېدلو سخت خفه کېږم ولو که کافر هم وي زه ددې هنرمند د ټولي کیسې شاهد یم ده ته بچي ورله غاړې دي د کورنۍ سرپرست همدا دی نور څوک نلري خو د وخت واکمنان چي ځانته د اسلامي قانون خطاب هوم کوي دا سړی بیابه کړ بېعزته یې کړ سپکي سپورې یې ورته وکړې حتا همدا هُنرمند اوس په ډېپرېش یا ژور خفګان اخته دی سوال دلته دی؟؟؟<br>اې د وخت حاکمه؟؟

ته خو مسلمان يې ځانته اسلامي قانون لري اسلام خپل حدود لري هر څوک چې مجرم وي د اسلام په چوکاټ کې هغه ته د خپلې جزا حدود ټاکل شویدي که ربښتیا دي پر لوی رب عقیده وي نو خدای ج خو درته ویلي دي چې د انسان عزت ساته ځکه خدای ج به ستا عزت ساتي له انسان سره ښېګڼه کوه خدای ج یې نیکی درحسابوي نو ته په کوم قانون کوم مذهب کوم چوکاټ کې یو انسان دغسي بېعزتي کوی سپکوې یې وهې یې او ویډیو ترې جوړوې ولې ؟؟؟

نوټ دا سړی سبیل سبحان نومیري محلي سندرغاړی دی څه موده مخکې ت ا ل ي بانو وواهه د موسیقی ټول سامان یې ورته وسوزلو بیا یې ویډیو ترې جوړه کړه چې اوس همدا انسان په سختې ذهنی ناروغی اخته دی!

د ظلم تور نظام که د مغل وي یا د بل وي
بابا ترې نه باغي وو زما هم ترې بغاوت دی!!!

دا لاندې د پېښې ویډیو ده چې د هنرمند په مخ کې یې د موسیقۍ الې د اور خورک شوې:

https://www.youtube.com/watch?v=lLBUcBr6EMs&ab_channel=SkyMedia



دې حالاتو او پېښو ته په کتو سره به زموږ د موسیقۍ ملکې څه ډول سا اخیستې وای او څه ډول به یې د ویر احساس نه وای کړی؟

د افغانستان د موسیقۍ د ملکې مېرمن قمرګلې د مړینې خبر په ډېره بېړه په ټوله نړۍ کې خپور شو، میډیا لنډ او اوږده راپورونه پرې خپاره کړل. دا لاندې د هغې پر مړینې د میډیا د راپورونو څو بېلګې دي:

تاند:

«طلايي حنجره قمر ګله مړه شوه، ژوند لیک یې دلته ولولئ
تاند:( شنبه، د قوس نولسمه) د افغانستان مشهورې سندرغاړې مېرمن قمر ګلې د کاناډا په تورنتو ښار کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې.

نوموړی د ۱۹۵۲ میلادي کال د جنوری په یوویشتمه د ننګرهار د ښېوې ولسوالی په شګې سیمه کې دې نړۍ ته سترګې غړولې وې.
هغې له اووه کلنۍ څخه په سیمه ییزو ودونو کې شوقي سندرې پیل او وروسته د نړۍ په کچه د پښتو ژبې په یوې مطرحې هنرمندې بدله شوه.
په افغانستان راډیو کې د استاد خیال تر نظر لاندې د مېرمن قمرګلې ( په ما مېنه، سترګې دې سرې دي) او ( زه انتظار کوم دا ستا د سترګو) سندرو نوموړې ډېره مشهوره کړه.
هغې وروسته له مشهور کمپوز جوړوونکي استاد زاخېل سره معرفت تر لاسه او د سندرو کمپوزونه پرې جوړ کړل.
په ۱۹ کلنۍ کې یې استاد زاخېل سره واده هم وکړ.
د افغانستان پخواني پاچا محمد ظاهر شاه مېرمن قمرګلې ته د ( ورو، ورو کیږده قدمونه اشنا) سندرې لپاره د سرو زرو مډال هم ورکړی و.
د افغانستان لومړني ولسمشر محمد داوود خان قمرګلې ته د ( زه سپینه کوتره یم اوچته پروازونه کرم) سندرې لپاره د سرو زرو مډال ورکړی و.
د پاکستان پخواني صدراعظم ذوالفقار علي بوټو هم نوموړې ته په ۱۹۷۲ کې د افغانستان د طلایي حنجرې لقب او ډالۍ ورکړې وې.
همدغه لقب ببرک کارمل، ډاکټر نجیب الله او حامد کرزي هم قمرګلې ته ورکړی او د سرو زرو مډالونه یې ورکړي وو.
د جهادي تنظیمونو د جګړو پر مهال د مېرمن قمرګلې یو ۲۲ کلن زوی داود ووژل شو او یو ۱۹ کلن زوی یې میرویس ورک شو.
هغې د طالبانو د تېرې واکمنۍ پر مهال هېواد پرېښود او کاناډا ته مهاجره شوه.
د مېرمن قمرګلې د ژوند ملګري استاد زاخېل په ۱۹۹۱ کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې وې.
د افغانستان یو ډېر شمېر مشهورو فرهنګي شخصیتونو د مېرمن قمرګلې په مړینه خواشیني ښودلې او مړینه یې یوه لویه ضایع ګڼلې ده.»

دعوت میډیا:

**«د افغانستان نامتو سندرغاړې قمرګل د ډسمبر په نهمه د جمعې په ورځ د کاناډا په ټورنټو کې مړه شوه.**
د هغې کورنۍ وایي، مېرمن قمرګل ناروغۍ له امله د ټورنټو په یوه روغتون کې ساه ورکړې، خو دا یې نه دي ویلي چې ناروغي یې څه وه.
مېرمن قمرګل د افغانستان پېژندل شوې سندرغاړې وه چې په پښتو او دري ژبو یې ډېرې سندرې ویلي دي.
د هغې مېړه زاخېل هم د افغانستان له نامتو سندرغاړو و چې کلونه مخکې مړ شوی دی.
د قمرګل زوی ایمل زاخېل هم یو ځوان سندرغاړی دی چې په کاناډا کې فعالیتونه لري او د خپل مور او پلار لاره تعقیبوي.»

بي بي سي پښتو:

«د افغانستان مشهورې سندرې غاړې مېرمن قمرګلې کورنۍ تایید کړې چې مېرمن قمر ګله له شاوخوا یوه کال راهیسې له سرطان ناروغي کړېدله او د جمعې په ورځ یې له دې نړۍ سترګې پټې کړې.

د هغې زوی ایمل زاخېل بي بي سي ته دغه خبر تایید کړ. "د افغانستان د هنر یوه ستره هستي او زما ګرانه مور له تېره یوه کال راهیسې له سرطان ناروغي ځورېدله او نن د دسمبر په نهمه نېټه یې له دې فاني دنیا سترګې پټې کړې" .

د اېمل زاخېل په وینا مېرمنې قمرګلې د افغان هنر او موسیقې لپاره ستر کار کړی دی "زه په دې یقین لرم، چې زما د مور مېرمن قمرګلې هلې ځلې د افغانستان په هنر او کلتور کې هېڅکله نه هېرېږي" .

مېرمن قمرګله د ننګرهار په ولایت کې زېږېدلې وه او له کوچنیوالي یې په سندرو ویلو پیل کړی وو. ډېر ژر مشهوره شوه او د کابل راډیو ته یې لار وموندله. د وخت له ولسمشرانو یې جایزې او مډالونه هم تر لاسه کړي وو. پخواني ولسمشر حامد کرزي ورته د افغانستان بلبلې لقب هم ورکړی وو. د کال سندرغاړې هم نومول شوې وه.

هغې له رسنیو سره په مرکو کې ویلي و، د موسیقۍ ډګر ته په ورتګ سره یې خپل خپلوانو سرخوږی ورته جوړاوه، خو پلار او یوه ورور یې چې له مخکې له موسیقي سره سر او کار درلود، د هغې ملاتړ کاوه.

مېرمن قمرګلې له مشهور افغان سندرغاړي دین محمد زاخېل سره شاګردي پیل کړه چې بیا وروسته یې واده سره وکړ. هغه مهال ډېر کمپوزونه هم محمد زاخېل ورته جوړول. لومړی سندره یې "په ما مینه سترګې دې سرې دي - نن دې ډېر ژړلي دینه "وه.»

**د افغانستان د موسیقۍ د ملکې مېرمن قمرګلې پر مړینه باندې څو پیامونه، څو اوښکې او آهونه:**

د افغان جرمن پورتال د تسلیت پیام:«

## د مېرمن قمرګلې د مړینې په پار

## د خواخوږۍ او ډاډګېرنې پیام



په ډېرې خواشینۍ سره مو خبر تر لاسه کړ چې د افغانستان د موسیقۍ د بڼ یوه نامتو او بېساري بلبله مېرمن قمرګل وفات شوه.

**اناالله و اناالیه راجعون**

مېرمن قمرګله د افغانستان په موسیقۍ کې په عام ډول او دافغانستان په ښځینه سندربولو کې په خاص ډول، د ځانګړي دریځ او هنري سبک درلودونکې وه. هغې د خپل ټول هنري ژوند په اوږدو کې، له خپلې طلایي حنجرې څخه د خلکو د خوښۍ له پاره غږ ویست، خوږې زمزمې یې وکړې او په ځانګړي ډول یې د افغان مظلومو مېرمنو غږ یې خپلو وطنوالو او نړیوالو ته ورساوه.

مېرمن قمرګلې د افغانستان په موسيقۍ کې ځانګړی دریځ او خپل سبک درلود، په اوسنې فرهنګي بهير او په ځانګړي ډول د افغانستان په معاصره موسيقۍ کې يې د حساب وړ کارونه وکړل او د زرو (۱۰۰۰) په شاوخوا کې سندرو شتمنه فرهنګي زېرمه يې نويو نسلونو ته د ميراث په ډول پرېښوده.

موږ د مېرمن قمرګلې مړينه لويه ضايعه ګڼو، دا داسې ضايعه ده او تشه ده چې د افغانستان فرهنګي ـ هنري کړيو کې به ترډېرو جبران او ډکه نه شي.

افغان جرمن کاري تيم د مېرمن قمرګلې له کورنۍ سره، په دې لوی وير کې ځان شريک ګڼي، دوستانو او د هنر مينوالو ته يې د خپل تسليت مراتب وړاندې کوي، مېرمن قمرګلې ته جنتونه، کورنۍ ته يې د لوی زغم هيله کوي.

افغان جرمن پورتال کاري ټيم»

ډاکتر لطيف ياد تل د خپلو حقداره فرهنګيانو يادونې په ژوندينې او په مړينې کړې دي، دا دی اوس يې د قمرګلې د مړينې په پار په خپله فيسبوکپاڼه کې څه خپاره کړي دي چې زه د دهغې د يوې لنډې بيوګرافۍ په ډول رااخلم:

«دپښتو موسيقۍ بلبلې ميرمن قمرګل له دې فاني نړۍ سره د تل لپاره خدای پاماني وکړه
(زه سپينه کوتره يم اوچته پروازونه کړم)

په ډيرې خواشينۍ سره مې څوشيبې وړاندې دفيسبوک او د ټولنېزو رسنيو نه خبر ترلاسه کړ چې دپښتوژبې نامتو سندرغاړې او دطلايي آوازاو حنجرې لرونکې هنرمندې ميرمن قمر ګله د کاناډاهېواد دټورنټو ښار په يوه روغتون کې له دې فاني نړۍ نه دتل لپاره سترګې پټې کړې . اروابناده مېرمن قمرګله د ننګرهار ولايت د شګې په ولسوالۍ کې دې نړۍ ته سترګې غړولې وې او د افغاني موسيقي او په تېره بيا پښتو موسيقۍ او هنر ته له هماغه کوچنيوالي نه يوه ځانګړې اوستره ډالۍ وه.
اروابنادې ميرمن قمرګلې په اووه کلنۍ کې په سندرو ويلو پيل وکړ او ډير ژر له خپل کلي ، ولسوالۍ او ولايت نه دافغانستان د هنري آسمان د ستورو په ډله کې ديوه طلايي ستوري په شان وځلېدله . د ميرمن قمرګلې لومړنۍ سندره: (( په ما ميينه سترګې دې سرې دي - نن دې ډير ژړلي دينه )) د راډيو افغانستان د څپو له لارې د خلکو پر زړونو کيناسته چې په دې توګه يې د هنر په دغه اوږده مزل کې د خپل هنري غوره فعاليتونو او هڅو په بدل کې دملت دبابا اروابناد اعليحضرت محمد ظاهر شاه ، شهيد محمد داود خان او تر هغه وروسته رژيمونو کې د خلکو او ملت په استازيتوب يې دسروزرو مډالونه پر ټټر ټومبل شوي دي.
دافغانستان په جګړه ځپلي هېواد کې ددې هغې سندرې لا دخلکوپه زړونو کې ډير ځای ونېوه چې ويل يې : (( زه سپينه کوتره يم اوچته پروازونه کړم )) او دې سندرې ميرمن قمرګل د يوې سوله پالې مور په توګه لا ډيره وځلوله .داروابنادې ميرمن قمر ګل وروستۍ لاسته راوړنه د افغانستان د بلبلې لقب دی چې د حامد کرزي له خوا ورته ورکړل شوی و .
اروابنادې ميرمن قمر ګلې پخپل هنري ژوند کې بې شمېره سندرې ويلې دي .دې درحمان بابا ، خوشال بابا ، ددپښتو غزل بابا حمزه شينواري ، اجمل خټک ،اروابناد قلندر مومند ، اروابناد نصرالله حافظ، اروابناد عبدالله غمخور ،اروابنادغلام دستګير رڼګ اودپښتو ژبې دډيرو نورو غزلبولو شاعرانو شعرونه زمزمه کړي دي اوپه دغو هنري فعاليتونو کې ددې خاوند اروابناد محمد دين زاخيل ددې پوره پوره مرسته کړې وه . ..همدارازاروابنادې ميرمن قمرګلې دپښتو ژبې دډيرو هنرمندانو سره ګډې سندرې هم ويلې دي چې په هغو کې اروابناد استاد ګلزمان ، اروابناده ميرمن رخشانه ، آغلې زرځانګه،آغلې شکيلا ناز او آغلې وجيهه رستګارنومونه يادولی شو. ميرمن قمرګلې دخپلو هنري فعاليتونوپه لړکې هند، پاکستان ، روسيې ، دامريکې متحده ايالتونو اودمنځنۍ ايشيا هيوادونو ته هم هنري سفرونه کړي ول .

اروابناده میرمن قمرګل یو وختي د راډیو افغانستان لخوا د کال غوره سندرغاړه ونومول شوه او په دې وروستیو کلونو کې د آریانا د ټلویزیون له خوا د خلکو په استازیتوب د ښې سندر غاړې جایزه او ۱۹۹۸ یم کال کې یې په کلیفورنیا کې د افغانانو د ټولني له خوا جایزه او لقبونه ترلاسه کړل .
میرمن قمرګله دوه لسیزې دمخه دخپل هېواد پرېښودلو ته اړه شوه اودکاناډا هیواد ته مهاجره شوه.
داروابنادې میرمن قمر ګلې نه درې لوڼې او درې زامن پاتې دي.
داروابنادې میرمن قمرګلې مړینه دپښتو موسیقۍ لپاره یوه ستره ضایعه ده او ددې نوم به دافغانستان دهنر او موسیقۍ په تاریخ کې تلپاتې او ځلانده وي .
اروایې ښاده !»

فاروق فردا:

تنها صداست که می ماند
صدای پر طراوت ترنم و زمزمه هم خاموش شد
قمر گل بلبل ترنم و موسیقی رخت سفر بی برگشت بست.
از کودکی مفتون صدا و آهنگهایش بودم،آهنگهایی که پس از اولین اجرا گل می کردند و بر زبان های خاص و عام جاری می شدند.
"پر ما مینه
سترګی دې سرې دي
نن دې ډیر ژړلې دینه
پر ما مینه"
این شعر بي قافيه, که نماد یا تابلوی یک شعر مکمل شمرده می شود ، پیش از قالب شکنی های نیمایوشیج در شعر فارسی قدامت دارد,این شعر اولین آهنگ قمرگل بود-این آهنگ بنیاد ساز و ساختار دنیای موسیقی و شمایل قمرگل را در چارچوب آن شکل بخشید وبه مثابه ی اولین گام بر نردبان عروج در دل های مردم وطنش، او را همیاری کرد.
خانواده ی قمرگل، نمیدانم از ولسوالی شیوه و یا دهکده ی شگی ولایت ننگرهار به بهسود آمده بود،برادر ارشدش خان‌شیرین نام داشت و با دسته یی از هنرمندان محلی در مراسم عروسی و شادی مردم آهنگ می خواند. مردم به زودی نام خان شرین را فراموش کردند و خان شیرین به برادر قمرگل شهرت یافت.
روح ملنگ جان شاد باد که به گسترش ریتم و تال موسیقی در بین مردم خدمت بزرگی کرد و دهن هر للو و پنجوی ملا و چلی را در بد گویی موسیقی تا حدی بسته بود ولی با نهم بودند شماری مردان تعبدی زیر دستور تاجران دین، که موسیقی را عیب می دانستند، چی مانده که خانمی برآمد کند.اما وابستگان خانواده ی خان شرین بر خلاف آن، با برامد قمر گل در دنیای گسترده ی موسیقی می بالید و در هر جا از شنیدن توصیف مردم نسبت به خواهر شان احساس خوشی می کردند.
فرهنگ سازی در خانواده و محل از این جا هم آغاز می گردد که این خانواده در آن سهم بسزا گرفت.
پس از آن سال ها گذشت، قمرگل با استاد زاخیل پیوند زناشویی بست و مادر چند فرزند شد،اما راهش را ادامه داد و با اجرای نزدیک به هزار آهنگ ،بر چکاد موسیقی به مقامی دست یافت که بسیاری ها به آرمان آنست. یکی از دلایل رسیدن او بر این قله صدای بی مانند او بود که پس از لتا منگیشکر در منطقه بدیل نداشت .امروز بانو قمرگل رفت ولی نام او و صدای او جاودانه باقی ماند.
روحش شاد و یادش گرامی باد
فاروق فردا»

هادي هادي:

«زما د هلکتوب، ځوانۍ او ټول ژوند د یوازېتوب د شیبو ملګرې او د باران د ترنم همزولی غږ دپ شو.

بېجوړې او استاده سندرغاړې میرمن قمرګله د پنځ خالق وروغوښته.
اناالله و انااليه راجعون
قمر ګله به د خپلې مور خاورې او ګران وطن درد و غم د خپل ښتن په حضور کې ترنم کړي، هغه به خپل دردېدلی او مساپریو چاودلی زړګی د خپل خدای ج حضور ته راوسپېري،د هغې ملکوتي ترنم به تر دې وروسته د جنت د باغیچو د سندرمارو بلبلو له غږ سره ملګری وي او مورږ په ترنم او خواږه غږ پسې زاره چاودي به تر پېړيو پېړيو د قمرګلې له سندرو او نغمو سره ژوند کوو.
د خوږو نغمو د ملکې قمرګلې اروا ښاده او د پښتون وطن په غرو رغو کې يې د جادويي غږ ازانګې تلپاتې اوسه.»

خالق رشید او ډاکتر انور خیري:

«پښتو موسيقي يتيمه شوه

پيغام

انا الله وانا اليه راجعون

قمرګلې ترنيمه پيرۍ زياته موده پښتو موسيقي په خپل خدای ورکړي استعداد اوهنري هڅوسره وپنځوله، دهغې بې جوړې ږغ داسيا له شرقي څنډو بيا دلويديز تر سمندري ساحلونو پورې خپلې هنګامې خپرې او له زړه يې زړونو ته ورسولي،دهغې هره سندره دزړونو ترانه وه چې دخپل تول اوتال په لرلو سره يې پښتو ژبه اودهغې دتال اوترنم وړتيا اورسالت نړيواله ښه ومونده، دقمرګلې هرتال اوهر راګ اوراګني دافغاني اندوژوند ،فکر ،طبيعي اوغرني ماحول اوتصور زيږنده وه چې تراخره يې ځان دپيښو اوتقليد منګولو ته وانه چاوه، څو کله دمخه مې دهند دبنګال دټاګور د شانتي نيکيتان پوهنتون په موسيقي څانګه کې ددې شرنګ د پايزيب دعالمونه خبروينه آشنا...سندره زرو تنو ګډون والو ته دافغاني موسيقی داستازې په توګه واورو‌له ،لويو هندي موسيقي پوهانو هيچا باور نه کاوه چې دا به رښتيا هم افغاني کمپوز اوتال وي. او داهم ددې برکت و چې تولو دپښتو موسيقياصيل والی اوقدامت ډير لرغونی وباله. په هرډول قمرګله دافغاني موسيقي بلبله دافغانستان د اوسنی يتيمې موسيقی له پاره يوه لويه او نه جبرانيدونکې ضايعه ده.

په هند کې دنهرو پوهنتو ن دپښتوڅانګې استادان او زده کونکی ددغې لويې سندرغاړې دنه شتون له امله دافغانستان خلکو او ددې اروا ښادې کورنی ته تسليت وايي.

اروايي ښاده

جنتونه يې په برخه

پروفيسور رشيد او داکتر انور خيري

د پښتو څا نګې په استازيتوب

نوی ډيلی- هند»

د اجمل تورمان پیام او له تورمان سره په انټریو کې د قمرګلې دوې خاطرې:«

"زه خو ګل ستا د پیکي وم څنګه پریوتم اوربل نه"!
او قمرګله هم د پښتو موسیقی له اوربل پریوته.

پښتني لتا، استاد قمرګلي سره مې کابو پنځلس شپارس کاله مخکې ازادي راډيو لپاره مرکه درلوده.
دوه خبرې يې ډېرې جالبه وې.
ورنه مې پوښتنه وکړه، چې عمر دې زياتېږي خو په غږ کې دې بدلون نه احساسېږي، چې دا څه کيسه ده؟
ويل شرومبې ډېرې څښم، ښايي دا يې لامل وي.
بل يې ويل چې د مشهورو هندي ستورو همامالني او درمندرا د واده کليزه وه، زه هند کې وم استاد سره اهنګ سره ورغلي وم.
وايي، د هند د طلايي حنجرې درلودونکي سندغاړې لتا منګيشکر، استاد سراهنګ نه وغوښتل، چې يوه سندره ووايي، خو استاد ورته وويل، چې زه نه, شاګرده به مې سندره ووايي.
قمرګلي ويل، ما سندره وويله او ډېره وستايل شوم، لتا راته وويل، چې ته د افغانستان لتا يې او بيا به يې تر هغې ورسته په هر مناسبت کې راته د مبارکۍ کارتونه رالېږل.
قمرګله دې خدای وبخي او ياد دې تل ژوندی وي!»

محمد انور وفاسمندر د مېرمن قمرګلي جنازه د وفا په دې تورو سره اوچتوي:

«زما لپاره «حمزه» (راځه، چې يوه جوړه‌کړو جونګړه په ځنګل کې...) را وپېژانده!
خو (قمرګل) وه، چې دغه شعر مخ رالوڅ کړ💞 :
ځومره خودخواه يو: «قمرګل مړه شوه...اورې! قمرګل ولاړه؛ مړه شوه«!
قمرګل:
هېڅ ډول مرګ نشي کولای، داسې طلاغږ، نسکور کړي!
خورې، مورې...غږمېرمنې! ابديت دې له سپينو نغمو او طلايي رڼاګانو لبريز واوسه!»

د دې مقالې په غمجن پای کې به د رحمان بابا يو هغه شعر رانقل کړم چې زموږ د سندرو د بڼ ملکې مېرمن قمرګلې په خپل غږ سره زمزمه کړی دی، ښايي دا د مېرمن قمرګلې د غږ يوه داسې بېلګه وي چې د دې د غږ د تلپاتې کېدو او تل اوربدل کېدو يو بېساری مثال وي:

چې مې مينه خدای پرتا باندې پيدا کړه
ترکه ما په هغه ورځ خپله رضا کړه

اوس د تا رضا جفا کړې که وفا کړې
ما دا ستا جفا قبوله په وفا کړه

ګل په لعل او په ګوهر کله څوک پېرې
بې له ما چې تا خندا کړه ما ژړا کړه

بې له ما چې دا غم ستا په هوس پېرم
کوم وګړي په هوس د غم سودا کړه

دوه ياران به دا رنګ نه وي چا ليدلي
چې يوه ورته ښکنځل کړه بل دعا کړه

ما ودرست جهان ته شا و تا ته مخ کړ
تا ودرست جهان ته مخ او ما ته شا کړه

ډېر هندکي په جهان ګرزي د چا ياد دي
عشق عالي پايه د هير او د رانجا کړه

هم پــه دا يې تــر همــه وو نام بلـنـد شـو
چـې قـبـولـه عـنـدلـيب د گل جـفـا كـړه

نـــا اشـنـا د بېلـتـانــه لــه غـمـه څــه زده
خـداى دغـه خـواري پـه بـخره د اشنا كړه

عـاشـقـان د يـــار تــر سـپـيـو هـم زارېږي
گـنـه مـــا د رقـيـبـانـو څــه پـــروا كــړه

زه رحمان چې ستا د حسن ثنا خوان شوم
ستا لـه رويـه درست جـهـان زمـا ثنا كړه

(رحمان بابا، د رحمان بابا ديوان، پښتو ټولنه، ۱۳۵۶ ام كال، ۱۵۱ ـ ۱۵۲ مخونه)

**«... غږمېرمنې! ابديت دې له سپينو نغمو او طلايي رڼاګانو لبريز واوسه!»**

(وفاسمندر)

www.dawatmedia24.com